مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نورمحمد لاهو

۲۰۲۳/۰۷/۲۲

# نامعلوم وطن

زه خپه یم
زه خپه یم
زه له هغه تیره غشي نه خپه یم
چې زما له سترو سترګو په ښنګ تیر شو
ستا د مخ په بنفشو باندې یې وینې وشیندلې
ستا په تاندې او معصومې شنې لمنې
په سرو وینو رسم شو یو سرو خالو نه صدقه شم

+ + + + +

ته مې غیږ کې
لکه نوې له سپوږمۍ نه
رالویدلې آیینه ټوټې ټوټې شوې
زه دې لاهم په ذړو کې
خپل بې شرمه وجود ګورمه ژوندی یم
اې روانه لویه سینده
کاشکې راشې ما له دغه شرمه مړ کړې ؟

+ + + + + + +

پیرۍ وشوې
یو سرۍ مې په بدن کې دی مړ شوی
پیرۍ وشوې
لکه ښځه هغې بورې سره ژاړم
چې هروخت له یوه قبره ځخه غواړي
د لورګی شنې خنداګانې او ښکلا یې بیرته ورکړي

+ + + +

زه خپه یم زه خپه یم
له هغه خاموش ځراغ ځخه خپه یم
چې یې خپله رڼا خپله په سینه کې ووژله


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اوس له شرمه یې تیارو کې ځان پټ کړی

+ + + + +

اخ نن ډېر یم لکه خپل سیوری یوازې
یو څوک شته ؟
چې ما هغه توپان ته بوځي
چې یې ته په سپین کمیس کې
د زخمي کوترې غوندې نامعلوم وطن ته بوتلې




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ